درویشتم پودکاست

## سوداګري «دویمه برخه»

داود جنبش: شنونده گان گرامی را با سلام به بخش دوم برنامه – ما و تجارت ما با آسیا و جهان، که قسمت اول آن قبلاً پخش شده است، خیر مقدم میگویم. د (ژوند لاره - راه زندگی) دا لړۍ له ولسمشر محمد اشرف غني سره د پوډکاستونو په بڼه چمتو کېږي او خپرېږي.

زه داود جنبش یم. آقای رئیس جمهور به یکی دیگر از پودکاست های نوبتی خوش آمدید.

دوکتور غنی: بسم الله الرحمن الرحیم احتراماتم را به تمام هموطنان در هر جا ییکه هستند، تقدیم میکنم.

داود جنبش: اوربېدونکو ته یادونه وکړم، په تېره خپرونه کې مو د افغانستان په لنډ تېر تاریخ کې د سوداګرۍ د برخې ځینې مهم مسایل، البته عمده عمده یې او د سوداګرۍ د نوي موډل په جوړولو کې د داسې شخصیتونو، لکه مرحوم عبدالمجید خان زابلي ونډه وڅېړله. نن به د همدغه بحث سیمه ییز او ځینې نړیوال اړخونه لږ څه را وسپړو. غواړم له خپل چم ګاونډ نه یې شروع کړو او همداسې مخ ته لاړ شوو، که ستاسې اجازه وي، د سوداګرۍ په برخه کې. نو که د ګاونډیانو باره کې غږېږو، فکر کوئ چا ته د نژدې ګاونډیانو خطاب کوو؟ حتمي خو نه ده چې دېوال شریک زموږ سره وي. د دوی وارداتي بازارونه له موږ نه کوم اقلام اخیستلی شي یا موږ ورته کوم یو تهیه کولای شوو؟

دکتور غني: ډېره مننه. لومړۍ برخه کې هغه ګاونډیان دي چې دېوال په دېوال یوو. بیا نژدې ګاونډیان مو هغه دي چې یا یو یا دوه ملکونه مو منځ کې دي، یا باید د هوا یا سمندر له لارې نه ورته ورسېږو. نو کم له کمه که وګورئ، چین دی، ایران دی، پاکستان دی، تاجکستان دی، ترکمنستان دی، ازبکستان؛ او بیا آذربایيجان، قزاقستان، هند، روسیه، ترکیه، سعودي عربستان او متحده امارات؛ دا هغه ممالک دي چې باید کم له کمه وربانديې ترکیز وي ځکه هم په ګاونډیتوب او هم له فرهنګي نظر نه او هم د نژدېوالي له نظر نه او له ټولو نه مهمتر د اقتصادي قوت [له نظر] نه چې د خرید قوت یا د اخیستلو قوت دی، موږ ته خاص اهمیت لري.

جنبش: رویهمرفته...، خوب تعداد این کشورها جدیداً ایجاد شده، تاریخ بسیار طولانی ندارد، اما به صورت کُل همین کشورهایی که نام بردید، اینها خریداران یا شریکان تجاری افغانستان در ادوار گذشته بودند و اقلام ما را می خریدند یا در این ترکیب تغییر می آید با توجه به زمان؟

دکتور غني: یک قسمت این کشورها...، معلومدار ما مناسبات بسیار قدیم داشتیم. با چین، راه ابریشم از خاطر چین نامگذاری شده بود. سرک بسیار بزرگی را که شیرشاه سوری اساسش را گذاشت و به نام جاده بزرگ یا Grand

Trunk road پسان انگلیسها سرش سرمایه‌گذاری کردند و قیر و اینها شد؛ قبل از آن از دوران بودایی ما وجود داشت. مناسبات ما با بین‌النهرین یعنی عراق موجوده چند هزار سال وجود دارد. همچنین مناسبات ما با ایران، آسیای مرکزی... کشورهایی بودند که به صورت دومدار همرای اینها مناسبات داشتیم؛ و همچنان مناسبات ما با کشورهای جهان اسلامی و اینها... اما همه اینها به تجارتی استوار بود که محورش شتر بود و بالای اقلام بسیار قیمتی تمرکز داشت. امروز ما سر نوع مناسبات بسیار جدید و قوت اقتصادی بسیار بزرگی که در این کشورها هم از نگاه اقتصاد عمومی شان و خاصتاً از نگاه این که این کشورها هم کشورهای صادر کننده بسیار بزرگ استند – یک قسمت این کشورها، تمام شان نه البته قسمت زیاد ایشان؛ و هم وارد کننده استند، از این جهت باید ما سرش تمرکز داشته باشیم.

جنبش: زما په یاد دي، نه پوهېږم تاسې به هغه وخت افغانستان کې وئ که نه، یو ډول غوړي له ایران نه راتلل «قو» نومېدل. ماته به همیشه دا پوښتنه وه، په هغې باندې به یې لیکلي وو چې: «برای مصرف خارج از ایران». ځان سره به مې پوښتنه کوله چې ولې؟ یعنې ځان ته یې ښه جوړوي، نورو ته یې خراب جوړوي که څنګه دي؟ همدا پوښتنه غواړم دلته وکړم، تولیدوونکي چې اموال جوړوي، ځان ته او نورو ته یې یو ډول جوړوي که بازار ته په کتو یې معیار ور بدلوي؟

دکتور غني: دواړه دي. څکه ځینې ممالک له بدې مرغې نه بدترین اجناس لېږي خارج د مملکت ته. تاریخ د مثال په توګه د غذایي موادو تېر شوی وي، په سرحداتو کې یا نژدې هلته یې بدلوي او دا موږ بار بار په بازار کې لیدلي دي په افغانستان کې. جنسیت کې تغییرات وي. فرق په دې راولي چې کوم ملک نظام د دې لري چې کیفیت کنترول کړي او ګمرکاتو کې او بیا بازار کې اصول او مقررات وي. دلته بین‌المللي اخلاق نشته. که امریکې ته څوک صادرات کوي، زښته ډېره توجه کوي. که اماراتو ته صادرات کوي، له حده بیشتر، څکه چې مقررات یې ډېر ټینګ دي او پوهېږي چې څه شی دی. اما که ځینو افریقایي ممالکو ته صادرات کېږي یا افغانستان ته صادرات کېدل یا کېږي بیا په منځ کې یې توپیر دی، نو دا په واردوونکو ممالکو پورې تړلې ده. له بلې خوا دا هم ده چې صادراتو لپاره ځینې ممالک امتیازات قایلېږي او د دې لپاره چې هغه ترلاسه کړي، نو بیا خاصې ټاپې دي چې هغه داخلي بازار کې خرڅ نه شي چې داخلي بازار کې قیمت اوچت تر وي. دواړه شته، نو دا چې «قو» کومه برخه کې و، دې باندې زه نه پوهېږم، اما توپیر شته، څکه وختې چې صادرات د دولت له خوا ملاتړ یې کېږي، یو اصل یې دا دی چې باید داخلي بازار سره رقابت ونه کړي، څکه ورته امتیازات قایلېږي او د هغه په بدل کې یو سرټېفکیت ورکوي. پاکستان کې دا په ډېره سویه موجود و، ځینو نورو ممالکو کې هم و، شرقي آسیا کې هم و؛ اما هلته خبره په دې کې وه چې کیفیت باندې څنګه تمرکز وشي او کیفیت چې په عمومي توګه اوچت شي بیا دا خبره کمېږي.

جنبش: پس به این صورت چه تغییر کلی در سیاست های تجاری و مراودات تجاری جهانی، نسبت به دوره های گذشته ایجاد شده است و به وجود آمده؟

دکتور غني: یک قسمت این مقررات سازمان جهانی تجارت است که وضاحت بسیار خاص دارد، که کدام اقلام به چه رقم باید طبقه بندی شوند. قسمت دیگر این، شرایط صحی است. بدون سرتفکیت صحی و بدون زنجیر ارزش، مقررات دیگری است که از اطفال سوء استفاده نشود یا برده‌گی. چون شرایط برده‌گی در حقیقت در تولید خاصتاً بعضی اقلام وجود داشته در بعضی ممالک؛ و نوع بسته‌بندی و اینها یعنی در گذشته نسبتاً مقررات ساده بود، فعلاً مقررات کافی پیچیده است، طویل است و ضرورت فهم واضح دارد و هم به مناسبات یا معاهده ها یا قراردادهای دوجانبه ارتباط دارد و هم به معیارهای بین‌المللی. نظر به این است که در کدام بازار چه رقم می خواهید رقابت کنید. در عین حال بدبختانه هم اروپا و هم امریکا مقررات نهایت دشوار بر صادرات زراعتی دارد. از جهتی که هر دوی این منطقه بزرگ زارعین خود را تقویه می کنند. به تمام باقی دنیا لکچر میدهند و شرط میگذراند که باید نوع تقویه وجود نداشته باشد اما خود را [تقویه می کنند]. جاپان هم به طور مثال در قسمت حفاظت تولید داخلی برنج به اندازه ای سختگیر بود که حد و اندازه نداشت. یعنی دو نوع است: یکی پالیسی روی کاغذ است که تجارت آزاد است، نقطه دوم شرایط واضح است که باید بفهمید که موانع داخلی چیست و به چه رقم کدام کشورها لیست ترجیحی دارند. ضرورت به دست آوردن لیست‌های ترجیحی و شرایط دوامدار نهایت مهم است چون بدون این، تنها به این که یک موافقه عمومی صورت بگیرد یا یک زعیم یک کشور به صورت لفظی موافقه کند شرایط را برابر نمی سازد.

جنبش: په سوداګرۍ کې یوه مهمه مسئله د ارزښت زنځیر دی او تاسې هم بیا بیا د دې یادونه کړې ده، اشاره مو درلوده، همدا یې ځای دی چې تشریح شي، چې د ارزښت زنځیر څه شی دی؟ چېرته پیلېږي او چېرته پای ته رسېږي؟

دکتور غني: دوه رقمه ورته کتلای شئ: یا له تولید نه بازار ته؛ یا بالعکس له بازار نه تولید ته. پخوا، وختی چې ترکیز په دې باندې و چې لومړی به مو له تولید نه پیل کاوه، اوس مطلق ضروري ده ټولو ته چې لومړی بازار ته وګورئ. مثال مې درکړ د جلغوزیو. ګورئ، جلغوزي لرئ، اوس باید وګورئ [چې بازار چېرته دی]. لوی‌ترین [پېرودونکي] د جلغوزي جرمني، چین او بیا نور ملکونه دي. دا یې اوله خبره ده. دویم، څوک د دوی وارداتو کې شامل دي؟ څوک ورته ډېرترین صادرات لري؟ بیا دې ته راځئ چې کیفیت د هغوی د صادراتو څه دی؟ څنګه یې برابروي؟ کیفیت یې څه دی؟ قیمت یې څه دی؟ یو وارې چې په دغو باندې پوه شوئ، اوس بیا هدف نیسئ. د مثال په توګه، زموږ لومړی اقدام دا و چې جلغوزي چې قاچاق کېدل په رسمي اقتصاد کې راشي او چین ته یې ورسوو. دې لپاره څه په کار و؟ د دې لپاره اول شی دا په کار و چې چین نه موافقه واخلو چې زموږ جلغوزي دوی واردولای شي. دویمه خبره چین ته رسېدل. د تولید مراکز پکتیکا، پکتیا او خوست دي او دویمه مرحله کې کاپیسا، ننګرهار او کونړ کې تر یوه حده. نو دلته خبره دا وه چې څنګه یې وړئ چین ته؟ ځکه موږ هوایي کوریډور ایجاد کړ. دریمه خبره دا وه چې څه کوئ؟ پروسس ځي که غیرپروسس ځي؟ زموږ ټول جلغوزي غیرپروسس وو. یو پانګوال په ګردېز کې جګ شو، خدای دې

يې آباد لري، لومړی پانگه یې واچوله ۵ میلیونه ډالره چې جلغوزي څنگه پروسس کړي. اما دا یې اوله مرحله ده. پس له هغه نه بېرته رسیږئ ټولنې ته. پخوا د جلغوزیو ونې یې پرې کولې، د لرگي په حیث باندې، دې ټولو ولسوالیو کې، خدای دې دوی ساتي، دوی په یوې موافقې ورسېدل چې پس له دې نه به نه یوازې څوک د جلغوزي ونې نه وهي، په دې هم راغلل چې اوزې به بندې شي، ځکه اوزې، د جلغوزو ځانگې چې ټیټې وي یا نوې وي [خوري]. پس له هغه نه خبره دا وه چې دولت باید څه وکړي نور. قوریې جوړې شوې، تقویه د دې شوله، د پرې کولو برخو کې، دې باندې. ټول ملک یو واري په دې پوه شو چې جلغوزي یوه پانگه ده، زموږ عمده پانگه ده. په دغه اساس باندې جنبش صیب، موږ هرې برخې د خپلو زراعتي تولیداتو ته کتلي و چې دا څنگه وکړو. او په څه توگه دا زنځیر د ارزښت برابر شي. نو هره برخه د زنځیر د ارزښت کې ټولنیزه پانگه اچول په کار دي. معنی یې څه ده؟ باید اتحادیې جوړې شي، شرکتونه جوړ شي، نظم راشي چې څنگه یوه پانگه لکه جلغوزي غوندې یا که بېرته راغلئ پِستې باندې چې نور ولایات دي [یا بله] هره برخه باندې، دا چېرې دي؟ په څه رقم برابرېږي؟

دویمه برخه یې دا ده چې پروسس ته څنگه رسیږئ؟ د هینگې نوم به مو اورېدلی وي. هینگه توره ده او سپینه ده او حداقل زما د څېړنو له لارې نه، ۲۰۰ کاله نه ډېرتر ده چې موږ هندوستان ته او له هغې لارې نه یا مستقیماً ځینې تر فرانسې پورې رسېدلې وه. دا په ډوډۍ کې او ځینو طبي برخو کې استعمالیږي. اما له بدې مرغې نه هماغه هینگه چې موږ ۱۵۰ کاله مخکې یا ۲۰۰ کاله مخکې صادروله لا یې هم صادروو. دا ډېره په هلمند کې وه، سمنگان کې وه، په بدخشان کې وه...

جنبش: یعنې د اومو موادو په شکل به وه، د یوه بوټي په شکل.

دکتور غني: د اومو موادو په شکل باندې. اوس که دغه بدلوئ، هغه له ۲۰۰ میلیونو ډالرو په حدود کې ډېرتر صادرېدل، وختې چې هوایي کوریډور مو ایجاد کړ، اما که دا پروسس شي، سم ترتیب یې ونیول شي او له اومو موادو نه پاخه شي، هره مرحله د پاخه کولو کې گورئ چې مقدار یې څومره کیږي. ځکه تاسې د اومو موادو په حیث یې که صادروئ، هغه بل مملکت کې پروسس کیږي او پخیږي او بیا له هغه ځایه یا بل ځای ته صادریږي، او همدغسې... شاید خلکو ته به دا ډېره عجیبه وي، د بادام عمده‌ترینو صادروونکو نه متحده عربي امارات دي. دلته خو معلومدار د بادامو باغونه نشته، اوبه دلته دومره کمې دي، اما دوی یې اومه راوړي او بیا یې بېرته صادروي. هره برخه د دې بشري قوه غواړي. انگور ته وگورئ، انگور خو ډېر زر خپل خاصیت له لاسه ورکوي، د مثال په توگه، د کندهار ډېر ښکلی انگور دی، اما وختې چې فصل راشي بولدک کې داسې حال وي، ۲۰ کیلومتره یا ۳۰ کیلومتره موټرونه ودروي او هماغه وخت کې د پاکستان چارواکي زر موټر نه پرېږدي چې لاړ شي. سهار یې پرې کوي، سهار وخته په کندهار کې، باغو کې، اما هر ساعت چې په لارې کې دي، د دې د خوږو مقدار کمیږي. اما که ممیز باندې ځئ [بیا حالت بدلیږي]. موږ یو شرکت درلوده، بیا دې هم د دوی کور ودان وي «تبسم» نومېده. داخل د افغانستان کې یې خپل ممیز

نه خرڅول، کاناډا ته يې هم بازار خلاص کړی و، ټوله اروپا کې يې هم بازار خلاص کړی و او په دې کې و چې د امريکې بازار هم خلاص کړي.

بله برخه دا ده چې وختې چې صادرات کوئ، دې باندې باورمند وي هغه ملک چې منځ کې يې مخدره مواد نشته. نن د مثال په توگه، ډېرو ملکونو ته که صادرات کېږي هر کارتن بايد بېل وگوري. بازار يو نظم دی. هرات کې، هېڅ وخت به زما هېر نه شي، يو باغدار راغی ماته يې وويل:«پخوا زما د حاصل يوازې دريیمې برخې ماته گټه راوسته، نوره برخه به يې گنده شوله. ويل يې اوس يو دريیمه برخه مې صادرات دي، يوه دريیمه برخه مې داخلي بازار دی، يوازې ٪۳۰ له لاسه ورکوم. زه پس له دې نه تانه توليد باندې توجه نه غواړم، زه تانه بازار غواړم.» زموږ ځمکه غنمو ته ده. ۵ ميليونه ټنه په کال کې په عمومي توگه حاصل لرو. زموږ د غنمو توليد ډېر ټيټ دی په پرتله د هر جريب. او قيمتي‌ترين منبع د اوبو لرو او دا که يوازې په غنمو ځي، نو تاسې فکر وکړئ چې د دې حاصل څومره راځي، په پرتله د هغو نورو موادو باندې. او اوس راځئ بازار ته د مثال په توگه. عمده قوت د اخيستلو بازار چين دی، ايران دی، قزاقستان دی، هند دی، روسيه ده، عربستان دی، امارات دي. د اقتصاد له نظر نه د پاکستان د يوه فرد درآمد حدود د ۱۵۰۰ [ډالرو] ډېرتر سرانه عايد دي. په ايران کې ۳۳۰۰ دي. په چين کې ۱۱۹۷۰ دي. ترکمنستان کې ۱۰۶۰۰ دي. قزاقستان کې ۱۰۲۰۰ دي. هند کې ۲۱۸۰ دي. روسيې کې ۱۲۷۳۰ دي. عربستان کې ۲۶۰۰۰ دي. [عربي متحده] اماراتو کې ۴۴۰۰۰ دي.

جنبش: يعنې دا يې سړي سر عايد دی، په امريکايي ډالرو.

دکتور غني: هو بالکل. نو تاسې په دې اساس باندې پوهېږئ چې يو وگړی د دې ملکونو قوت د خريد يې څه دی او له دې نظر نه څه رقم کيفيت غواړي. ځکه هر څومره چې عايد يې اوچت‌تر وي، له هماغه نظر نه کيفيت غواړي. آخر يې په انسان باندې ده. انسان مو څنگه په کار اچوئ؟ او د انسان مولديت، د توليد برخه يې څومره ده؟

جنبش: آيا نياز است، کشورهايی که درگير مناسبات تجاری و بازرگانی استند، مسايل مربوط به زنجير ارزش خود را با همديگر شريک بسازند يا فکر می کنيد اين به زيان آنها تمام ميشود؟

دکتور غني: اين به زيان نيست، بالعکس است. طور مثال، کشورهايی بودند در خليج که آماده اين بودند که تمام خريداری ها برای قصرهای دولتی از افغانستان صورت بگيرد. بدبختانه ما افرادی را نداشتيم که بتوانند کيفيت را ايجاد کند. آنها تمام شرايط را در اختيار ما قرار می دادند. اما يکی از مشکلات ما به حيث يک جامعه اين است که ما پشت ثروت زودرس می گرديم و زنجير ارزش تمام ابعاد اين بايد بسيار دقيق باشد. زعفران ما به طور مثال بارها جايزه درجه اول را گرفته، اما زعفران ما به حيث زعفران اسپانيايي فروخته ميشود، چون حساب زنجير ارزش محکم نشد. خداوند بابای زعفران هرات را غريق رحمت کند. يک فرد آمد اين را دوباره زنده کرد در افغانستان. اما نهادهای واضح که بايد اين زمينه را برابر می کردند و خاصتاً وزارت‌های مسئول ما هميشه با اين بی تفاوت بودند. ممالکی که صادراتی

بودن را جدی گرفتند، تمام ابعاد این را فکر می کنند. و حالی بخش دیگر زنجیر ارزش معلومدار زیربنا می خواهد و ترتیبات و اینها... چند پوهنتون ماست، چند دستگاه دولتی ماست که به صورت منظم بحث زنجیر ارزش را دارند و نقشه این را در مغز خود دارند که کجای افغانستان چه را تولید می کند و چطور وصل شده می تواند؟ چون نقطه دیگر ارتباط این، وحدت ملی است. تمام این بخش‌ها باید با هم مرتبط شوند.

جنبش: دلته یو بل زنځیر هم شته چې د مولد او مستهلک رابطه ټینګوي که ترجمه یې کړو د تدارکاتو یا انتقالاتو کړۍ یا زنځیر ورته ویلی شوو، دا څه شی دی او په کومو اصولو تنظیمېږي؟

دکتور غني: د مثال په توګه که یو موټر تولیدوئ په امریکې کې، ټولې [پرزې] خو له امریکې نه، نه راځي. یوه برخه یې له کوریا نه راځي، یوه برخه یې تایوان – چین نه راځي، یوه برخه یې له چین نه راځي، ځکه تولید نړیوال دی، انتقالات هم نړیوال دي. نو دلته ده چې دا د تدارکاتو زنځیر ته ګورئ. د کووېډ دوران نه پس یو عظیم بحران په ټولې نړۍ کې راغی. مسئله په څه کې وه؟ د مثال په توګه د امریکې د موټرو تولیدوونکو تخمین شوی، په حدود د ۲۴۰ میلیارده ډالره یې له لاسه ورکړل. دلیل یې څه و؟ په حدود د ۱۰۰۰ نوع چېپ یا دا ماشینونه دي، واړه واړه ماشینونه دي، ۱۰۰۰ دانې له دې نه استعمالېږي، دغه کې دوی سمه محاسبه نه وه کړې، خپل قراردادونه یې لږ کړي وو. وختې چې کووېډ ختم ته ورسېده کافي چیپس نه وو. ما اکثره خپل محصلین په امریکې کې، سوپرمارکېټ ته به لېږل او بیا به مې ورته ویل چې دې هرې اورسۍ ته وګورئ، دا ماته معلوم کړئ چې دا شی چې په دې اورسۍ کې دي، له کوم ځای نه شروع شو، څه ور باندې شوي، څنګه راغلي دلته او بالآخره ستاسې په ډوډۍ باندې ختمېږي یا مصرف باندې راځي. نن خبره د دې ده، که صادرات کوئ باید پوه شئ چې ستاسې انتقالات په ځای دي او قابل د اعتماد دي. ولې موږ هوایي کورېډور منځ ته راوړ؟ ځکه هر وار به یې موږ باندې یا بولدک تاړه یا تورخم به یې تاړه یا دواړه یې تړل. ولې موږ ازبکستان سره کورېډور ایجاد کړ؟ ولې مو د لاجورد کورېډور له ترکمنستان نه تر آذربایجانه پورې او بیا د چابهار کورېډور او دا نور ایجاد کړل؟ ځکه باید اعتماد ولرئ. او که یوه برخه د دې وتړل شي، تاسې پوهېږئ چې نتیجه یې په چا باندې راځي؟ نتیجه یې په هغې باندې راځي چې چا تولید کړی او څوک یې چې اخلي. او څوک یې چې اخلي باید ډاډ ولري چې چا سره یې چې قرارداد کړی راځي، غیر له هغه جریمه په هغه چا باندې راځي چې صادروي یې. او که دلته کوم میرزا صاحب کېناستلی وي او قلم وهي او پیسې غواړي یا کوم مامور دې ته د ملي ګټې په اساس نه ګوري، زنځیر خرابېږي. او ګمرکات یوه عمده برخه د دې ده، هوایي اډې یوه عمده برخه د دې ده؛ د رېل پټلۍ، لارې، سرکونه دغه ټول راځي د دې انتقالاتو په زنځیر باندې. یو مثال درکړم بیا. کولمبیا د تېلو خاوند دی، اما پوهېږئ چې صادرات یې، کوم قلم دی چې صادرات یې له تېلو نه ډېرتر دي د کولمبیا له خوا؟ مرسل! دوی ایالات متحده امریکا ته او کاناډا ته دومره مرسل [ګلان] په کال کې صادروي چې د تېلو برخې نه ډېرتر دي. افغانستان یو عظیم ظرفیت د تولید د مرسل و ګلاب لري. یوازې متحده اماراتو کې تخمین دا دی چې په کال کې ۳ میلیارده ډالرو

گلاب و مرسل اخیستل کېږي. د مرسل تولیدات خاصتاً ننگرهار کې، پکتیکا کې هم دا شته، نورو ځایونو کې هم شته، بېساري دي؛ اما زنځیر د انتقالاتو [داسې دی]، که سهار یې ونه رسوئ او ماسپښین ورسېږي، ډېر ناوخته دی.

جنبش: در یک بخش از صحبت‌های تان شما اشاره یی داشتید که برای صادرات تصدیق کیفیت و تصدیق سلامت یا صحت امتعه ضرور است. فکر می کنید این دو بخش، یعنې عدم موجودیت این دو گونه تصدیق باعث کمی صادرات ما به کشورها شده؟

دکتور غنی: نکته اول اجماع لازمه بین اراکین دولت، تولید کننده ها و پروسس کننده هاست. دوم فهم است. دانش ما بدبختانه در قسمت افغانستان شناسی بسیار ضعیف است. درسهایی که ما در پوهنتون های ما میخوانیم یا در مکاتب ما میخوانیم، تا چه اندازه به واقعیت های زندگی ما تعلق دارد؟ سرتفکیت صحی جز دیگر اینست، اما مهمترین موضوع منفی برای ما، شهرت ما به حیث یک مملکت آغشته به صادرات مواد مخدره بود. چون بدبختانه هیچ فرصت را عناصر ناپاک از دست ندادند که صادرات را صدمه بزنند، از خاطر این که مواد مخدره را انتقال بدهند. و معنی این چه بود؟ هر بسته، هر کارتنی که از افغانستان صادر میشد، دوباره باز میشد. و نقطه دیگرش عدم اعتماد سر تداوم بود. مردم را ملامت کرده نمیتوانید. وقتیکه سرمایه گذاری می کنید؛ سرمایه‌گذاری سر زنجیر ارزش و زنجیر انتقال حداقل یک دیدگاه پنج ساله تا ده ساله را به کار دارد. مفاد آنی نمی آید. در حالیکه وارداتی که صورت می گرفت و واردات ظالمانه بود، از کشورهای منطقه و خارج، بدترین کیفیت آورده میشد به بالاترین قیمت فروخته میشد. در تیل چه وضعیتی نبود؟ ذهنیتی که حاکم است در کشورهای رو به انکشاف بدبختانه، اینست که اگر کسی منفعت میکند حتماً ضرر کس دیگر است. این را معادله صفر می گوید. در حالیکه معادله صفر نیست. ثروت قابل انکشاف است. امروز اگر ۲۰ میلیارد دالر عواید ملی ماست، باید به فکر این باشیم که چطور ۱۰۰ میلیارد شود. در صد میلیارد نفع همه است. اما اگر بیست میلیارد میگذارید یک نفع به یک عده محدود میگذرد. می فهمید تمام سطح طرح سنگاپور بالای چه استوار بود؟ کار و مسکن! باید برای تمام اتباعش کار ایجاد شود و برای تمام شان مسکن. در ابتدا ۹۲ فیصد مسکن از طرف دولت ایجاد شد، حالی در حدود ۷۶ فیصد و اینها. اصطلاح سکتور خصوصی ناقص است. به این معنی که موضوع عمده، ایجاد مارکیت سازی است، سکتور خصوصی یک جز است. و اگر تاجر است و منفعت آنی را مدنظر می گیرد سرمایه‌دار نیست، در ایجاد مارکیت نقش ندارد. بازار به ذات خود به یک مارکیت صادراتی بدل شده نمی تواند. و این تجربه موفق آسیای شرقی است، که مثالهای زنده است که چطور افرادی که در بازار مستری بودند یا تجارت کوچک داشتند یا تجارت متوسط داشتند، در یک چارچوب طرح‌های منظم انکشافی، مثل طرحیکه آقای زابلی در نظر داشت، در این کشورها خوشبختانه موفق شدند، ما بدبختانه موفق نشده بودیم.

جنبش: چې افغانستان سره رابطه ورکړو دې موضوعاتو ته، فکر کوئ څنگه، آسیایي تجارتي بازار ورته وایاست، کړۍ یا زنځیر ورته وایاست، دغې ته افغانستان ور ننوتلی شي؟ تاسې څو ځله بیا بیا د افغانستان د آسیا د تجارتي څلورلارې اصطلاح کارولې وه، څه باید وکړي چې ربښتیا هم په دغسې یوه څلورلارې بدل شي؟

دکتور غني: لومړی طرحې دي، طرحې واضح شته. هیله‌مند یم چې بیا یې له صفر نه پیل نه کړو. طرحې افغانستان لپاره دي. که زه وسیله وم، که نور وسیله وو، موږ باید هغه شی چې زده کړي دي، په هغه باندې عمل وکړو. هغه چې مثبت دي باید بیړه په کې وکړو او هغه چې نه دي باید ورنه درس واخلو. دویم باید په عمومي توګه دې نتیجې ته ورسېږو جنبش صیب چې آیا اقتصادمحوره پالیسی باندې لازمي اجماع جوړوو که نه؟ آیا غواړو چې بېوزله و اوسوو که آیا غواړو چې یو بډایه ملت و اوسوو، هوسا ملت و اوسوو؟ که دې باندې اجماع وي، پس له هغه نه بیا لازمي اجماع په دا ده چې څه رقم اقتصادي سیاست مو په کار دی او څه رقم مشروعیت مو په کار دی. دغه ابعاد ټول له یو بل سره تړلي دي. زه به څو مثاله درکړم. ایران: ۳۵۲ میلیارده [ډالر] عاید یې دی. حدود د ۱۰ قلمه [صادراتي موادو] موږ ایران سره په بحث کې وو چې دوی یې له لاتینې امریکې او له افریقې نه اخلي. دغو برخو کې ایران سره منځمهال یا اوږدمهال قراردادو باندې راتلی شوو. ما ایران ته وویل وختې چې کمال خان [بند] مې افتتاح کاوه چې دا اوبه، دا نیمروز و فراه له هرات نه نیولې تر کندهاره پورې یوازې د افغانستان کندو نه دی، د ایران کندو دی. اوبه انتقالېدی نه شي، اما زموږ پیداوارو ته ضرورت دی او ایران په کال کې ۵۵ میلیارده ډالره واردات لري. بلې خوا نه قزاقستان په کال کې ۴۹ میلیارده ډالر واردات لري. په غنمو کې هېڅوک په منطقې کې له قزاقستان سره رقابت نه شي کولای. او زموږ ډېرترین غنم له قزاقستان نه راځي. او پخوا له دې نه چې ما دا لاره برابره کړله او د ازبکستان نه هم منندوی یوو چې انتقالاتو کې یې هېڅ وخت خنډ پېښ نه کړ؛ زموږ اکثریت غنم له پاکستانه راتلل. او همیشه ورباندې سیاسي چیشي کیدل. نه پوهېږم چې تاسې [د قزاقستان] الماتې او آستانې ته تشریف وړی که نه.

جنبش: آستانه مې نه ده لیدلې، خو الماتي کې څو ځله وم.

دکتور غني: آستانه [ښار] څومره سوړ دی. په دوو دقیقو کې زه نژدې یخ وهلی وم. له موټر نه تر قصره پورې چې [ولسمشر] نظربایف راته هرکلي ووایه. دغلته لویترین بازار زموږ میوه‌جاتو او زموږ سبزیجاتو ته دی. اما دې باندې باید یوه فیصله وکړو. آیا غنم په اساسي توګه له قزاقستان نه اخلو؟ او که یې اخلو، آیا لکه ځینو نورو ملکو غوندې هلته ځمکه اخلو او مدیریت یې خپله کوو؟ یا دوی سره په یوه واضح قرارداد رسېږو؟ او دوی تیار دي زموږ سبزیجاتو او میوه‌جاتو لپاره.معلومدار تاسې لیدلي دي، د دوی سویه د ژوند ډېره اوچته ده. دوی لس زره، له لس زرو ډالرو نه څه پاس په کال کې ملي سرانه عاید لري. نو موږ باید سبزیجات او میوه‌جات چې دلته لېږو، په هغه معیار برابر وي.

روسیې خپلې منې له پولنډ نه اخیستلې. زموږ منې بېساري دي، قیمت یې ډېر ټیټ دی. که موږ غواړو د دې منو صادرات وکړو د روسیې بازار ته، آسانترینه لاره یې دا ده چې ترمز کې چې ازبکستان ډېر اوچت تاسیسات جوړ کړي دي، اما ورنه ګټه نه اخلي، دا تاسیسات کرایه ونیسو، ټول د دې ترمز کې بسته بندي شي. د ترمز نه د اوسپنې پټلۍ مستقیماً مسکو او دې [سیمو] ته ځي او بیا به اعتبار وي چې منځ کې یې نور شیان نشته.

دغه رقم زمونږ مرمر. پوهېږئ اوچت‌ترین مرمر د اروپا ایټالیې کې وو، هماغه سپین مرمر وو چې ټول د دوی قصرونه او لوی معبدونه او دا ورنه جوړ شوي دي، اوس په ختمېدو کې دي. دغه کیفیت یوازې چشت شریف کې په هرات کې دی او ځینې نږدې [سیمو کې] څه نور هم پیدا شوي وو معادن. د افغانستان مرمر دومره موجود دي چې سل کاله نور هم کم له کمه صادرات وکړو. عربستان لوی‌ترین تاسیسات لري، نور ملکونه [همداسې]. او آذربایيجان. پس له دې نه چې ناگورنو قره‌باغ یې ونیوه، لویې پروژې لري. دغو ابعادو کې زمونږ ساختماني مواد جذبېدی شي. چین او هند اقتصادي قدرتونه دي. د چین واردات ۲٫۷ ټریلیونه [ډالره] دي په کال کې او د هند واردات ۷۲۰ میلیارده ډالر دي. چین هم هر شی اخلي، هم یې بېرته صادروي. که دغه ټول نظر کې ونیسئ، لیدی شئ چې ولې دا منطقه موږ ته مهمه ده؟ فضل د خدای زمونږ تنوع، هغومره چې په ژبو باندې پوهېږو، هغومره چې مشترک روابط لرو، عنعنوي تاریخ لرو، یو بل سره راشه درشه کولای شوو، بیا دا ټول استعمالېدی شي، اما ددې نتیجه دا ده چې زمونږ په مسلکي تعلیماتو باندې یو عظیم زور راشي. هر دوم مسلکي تعلیمات  باید ابتدایي تعلیماتو سره یو ځای شي. هر څوک چې د مکتب له شپږم صنف نه وځي باید حداقل د دې سواد ولري چې یوه مسلکي برخه کې کار وکړي. او هر تعلیمي کال باید ارزښت یې د بشري قوي د تولید له نظر نه واضح شي او پوهنتونونه اساسي بدلون غواړي. بله یې دا ده چې د یوې افغانی یا یوه ډالر په اهمیت باندې پوه شوو. ارقام راغلل چې امریکاییانو دومره [پیسې] راوړي دي او دا... هغه یې په ځان باندې لګولي دي اکثریت. د یو میلیارد امریکایي ډالرو واقعي اهمیت په افغانستان پنځوس میلیونو ډالرو نه ډېرتر نه و. زه یې بار بار درته ثابتولای شم. خبره په داخلي تولید کې ده. وختې چې داخل کې تولید کوئ، دا پیسې ستاسې دي. ګرځي، لاس مو خلاصوي. هر څومره چې په خارجي مرستو باندې اتکا ولرئ او تړلي اوسئ، تر هماغې [اندازې] مو لاسونه تړلي دي. ځکه هر یو د دې له شرایطو سره راځي. نو که واقعي استقلال غواړو او آزادي غواړو، دا بې له دې نه چې خپلې پانګې، له موقعیت نه نیولې تر نورو ابعادو پورې [منسجمې کړو، نه راځي]. دا بیا ښار کلي سره تړي، کلی ښار سره تړي؛ کوچی ده‌نشین سره تړي... هره برخه د دې قلم په قلم فکر غواړي. یو عمومي طرحه ده. او بله د بانکداری برخه. څو سوه میلیونه ډالره مو په بانکونو کې، دولتی بانکونو کې درلودل، اما ډارېدل له دې نه چې چاته قرضه ورکړي. ځکه زورواکي راغلي وو، یو وارې به یې چې پور واخیسته، پس له هغې نه به چا ورنه نه شو اخیستلی. یو انګلیسي بانک راغی زما په غوښتنې وختې چې زه وزیر د مالیه وم، د وزارت خارجې مخکې یې څو میلیونه ډالر ورنه وتښتول، پس له هغه نه مجبور شول، بانک وتړي. اقتصادي امنیت یوه خاصه طرحه ده او ابعاد یې واضح دي او ان‌شاءالله تعالی کېدونکي دي. په شرط د دې چې موږ ټول نتیجی ته ورسېږو چې څه رقم افغانستان غواړو.

جنبش: بلی، شما اشاره کوتاه در مورد تغییر نصاب تعلیمی مکاتب داشتید که حداقل یک کسی که از صنف شش فارغ میشود در یک بخش مسلکی مهارت داشته باشد. به صورت کُل میخواهم بفهمم که برای آماده ساختن افغانستان که وارد این تعاملات با منطقه و جهان شود به چه نیروی مسلکی و بشری نیاز است و از کجا شود باید؟

دکتور غنی: شروعش آسان است، از خاطری که در بخش تعلیمات مسلکی صدها برنامه آماده است. کلُ این دیجیتل شد، آماده‌گی دارد، یک ظرفیت بسیار خوب به وجود آمده، و تقویه اش به کار است. نکته بنیادی این است که هر فرد افغانستان باید ظرفیتش بدل شود. ما باید انسان محور باشیم. زمین را اگر میخواهید که بهترین مولدیت داشته باشد، اگر برق [و دیگر] تمام ابعاد را بگیرید، آیا بدون انسان این را انجام داده میتوانید؟ انسان مرکز است. اولویت اساسی در تغییر ظرفیت انسان است. من این را نمی گویم از خاطری که افغان استم و همیشه شکر کردیم که در افغانستان تولد شدیم و افغان استم؛ استعداد ما ناب است. تا روزی که در دستگاه تعلیمی دچار تعصب و کوتاه‌بینی نشویم و نصاب تعلیمی ما را به افراد متعصب بدل نکند. یعنی در پوهنتون کابل من واقعاً افتخار می کردم که محصلین صنف اول را می دیدم. ظرفیت اینها، عطش اینها به دانش و احساس اینها! هر برنامه ملی را که در افغانستان ساخته اید که باید در تمام افغانستان مورد تطبیق باشد، مردم مخالفت نه کرده اند. اختلاف وقتی شروع میشود که یک نقطه را سر نقطه دیگر ترجیح بدهید. وقتیکه معیارها واضح باشد، مردم جمع میشوند. ازین جهت ضرورت اینست که توجه بنیادی ما این باشد، که نه تنها امروز بلکه دنیا در پنج تا ده سال آینده به کدام جهت روان است. امروز طور مثال، هیچ کار مسلکی بنیادی را بدون دانش کمپیوتر، بدون دیجیتیل شدن انجام داده نمی توانید. خاک شناسی را [مثلاً]، خاک تان را باید بشناسید. چند فیصد خاک افغانستان را می شناسید؟ کیفیت آب تان را باید بفهمید. چند فیصدش را میفهید؟ شیوه استفاده را [همینطور]. این نقاطی است که یک تغیر بنیادی میخواهد. نقطه خوب در چیست؟ تجارب جهانی بسیار قوی وجود دارند که ما ازش استفاده کرده می توانیم. اما غرور اینکه فکر کنید که با یک ماستری یا یک دوکتورا عقل عالم میشود، این امکان ندارد. با مردم باید کار کنید. یک طرح واضح تغییر ظرفیت کُلی مطرح باشد و از عبقریت بگذریم. مردم محور فکر کنیم، نه اینکه یک اقلیت خورد را فکر میکنیم که عبقریت دارد و از همه بلندتر است. افغانها همه مساوی یکدیگر استند. از طفل گرفته تا پیرمرد و پیرزن، فکر جدی اینها را به کار انداختن [نیاز است]، و فرهنگ ما هیچ نوع با این اختلاف ندارد. طور مثال در بخش زیورات، ما میتوانیم به یک صادر کننده بسیار بزرگ تبدیل شویم. عمده‌ترین کار زیورات را خانم‌ها در دنیا انجام میدهند و شرکت‌های تولیدی برای زیوارت کُلش میتواند تنها از خانم‌ها باشد. انواع مختلف این است که چطور زنجیر ارزش را تغییر میدهید، اما ظرفیت شان باید مدنظر گرفته شود.

جنبش: تاسې وويل چې د افغانستان لپاره اوس يې ښه‌والی دا دی چې نړيوالې واضح تجربې شته هغې ته په کتو، کېدای شي خپله لاره آسانه پيدا کړي. په دغو تجربو کې د مولد، صادروونکي او دولت نقش د تجارت په دې ټوله معادله کې څه شی دی؟ موږ همدغه کاپي کولای او راخيستلی شوو؟

دکتور غنی: ډېره عمده پوښتنه ده. هو! اصلي خبره دا ده چې بايد درې‌اړخيز ډاډ موجود وي چې ټول په يو هدف دي، اما دويم يې تفکيک د وظايفو دی. په واضح توگه ځينې کارونه يوازې دولت کولای شي، ځينې کارونه يوازې پانگوال کولای شي، اما د تاجر او پانگوال منځ کې تفکيک په کار دی. هر څوک چې تجارت کوي بايد پانگوال

باندې بدل شي. زما لوی‌ترینه طرحه دا وه چې زموږ تاجران فضل د خدای کافي امکانات لري، اما پانګې یې وویستلې، له افغانستان نه یې پیدا کړلې، باندې یې وویستلې. باندې پانګوال دي، په افغانستان منځ کې تاجران دي او دغه تفکیک واضح دی. میلیاردها ډالره د افغان تاجرانو په لاس کې دي او افغانستان کې به یې یو دوکان درلوده او یو کرایي کور به یې درلوده. زه یې نه ملامتوم. وختې چې یې شرایط دوی لیدل، سیاستمداران چې بیعت او میعت ورکوي، نو دوی ولې پانګه واچوي. فورمول په دې کې دی چې په ګډه راځئ او نوع د دې ده او تفکیک هم واضح په کار دی چې کیفیت، قیمت، موثریت، شفافیت دا ټول په یو چوکاټ کې راشي. د مثال په توګه، که خصوصي سکتور د دې ادعا لري چې یو بند په ۳۰۰ میلیونو ډالرو تمامیږي او د دولتي سکتور له نظر نه یې په ۲۰ میلیونه ډالرو کولای شئ، نو دا لیونتوب دی چې بیا یې هغوی ته ورکړئ. هغه... هغه پانګه اچول نه دي، هغه احساس د مسوولیت نه دی، هغه دا ده چې ځنګه جېبونه ډک کړي. اما که دولت بالعکس وایي چې زه یې په ۶۰ میلیونو کوم او په سم کیفیت باندې نه، او واقعي پانګوال راځي او وایي زه دا په ۲۵ میلیونو یا ۳۰ میلیونو کوم او په سم کیفیت باندې، نو دا بله خبره ده. دولت منځ کې باید د نظارت، د طرحو پوهېدل، تخنیکي برخې، اجتماعي برخو څېړل، دغه ظرفیت ایجاد شي. د پانګوالو په برخه کې باید کاري ظرفیت وي او واضح دریځ چې څه چې دوی پیدا کوي، دوران کوي. باندې یې نه باسي، خپل ملک کې زنځیر د ارزښت او زنځیر د تدارکاتو ته پراخوالی ورکوي. په دغه چوکاټ باندې تجربې برابرېدی شي، اما داسې ملک نه دی چې موږ یې کټ‌مټ کاپي کړو. ځکه دوی دومره پرمختللي دي زموږ په پرتلې باندې چې که ځوانان ورته لېږئ، دوی بېرته په دې نه راځي چې ځنګه یې له دوی نه زده کړو، تنها یوازې وایي چې دا ممکنه نه ده. یا داسې درسونه ورنه اخلي چې طرحې وړاندې کوي چې هغه په ملک کې د تطبیق وړ نه دي. د دوی مختلفو تاریخي ادوارو باندې وګورئ او اوسنیو شرایطو سره په ګډه، ځکه چې لوی تغییر چې راغلی په نړیواله سطحه او هغه باندې سترګې نه شئ پټولای، ټکنالوجي ده. د شپېته کلو مخکې ټکنالوجي نشته، د څلوېښت کلو مخکې انجنیري نشته، د دېرش کلو مخکې انجنیري، د شلو کلو، حتی د لس کالو مخکې انجنیري نشته. او بل د چاپېریال بدلون دی. چاپېریال د بدلون په اساس باندې وختې چې طبیعت سره سر و کار لرئ، چاپېریال سره؛ نوې طریقه په کار ده. د مثال په توګه بندونه چې جوړوئ، پخوا سل کاله مو نظر ته نیول د سېلابونو له نظر نه، اوس باید زر کلونه [په پام کې] ونیسئ یا پنځه سوه کلونه. دغه بدلون کې بېرته راځئ بشري قوې باندې چې اوسنی بشري قوه ځنګه ایجادوئ او دې باندې ځنګه چټک [پرمختګ کوئ]. کومه برخه مهمه ده چې کم له کم نه یو ملک کې په اساسي توګه څه رقم ظرفیت موجود وي او بیا ځنګه په دوامداره توګه [مخ ته لاړ شي]. بله برخه د دې دا ده چې که ځینو شیانو کې ناکامېږئ، یو واري نه راځئ چې څوک ملامتوئ، څوک دار کې واچوئ. ځینو شیانو منځ کې اشتباهات هم شته، اما په شرط ددې چې شفافیت موجود وي او اعتماد موجود وي. او له بلې خوا نه باید په واضح توګه یو عمومي ظرفیت په ګډه راشي او طریقه د ارتقا په دولت کې او هم د پانګوالو په منځ کې باید په شفافو معیارونو باندې وي چې پوه شئ. رقابت، مشروع رقابت د پانګوالو په منځ کې، د دې لپاره چې کیفیت ځنګه اوچت کړي او کمیت ډېر کړي او ځنګه رقابت ډېر کړي [باید موجود وي]. هغه خلک باید امتیازات ولري او تقدیر شي او هغه چې نه راځي بازار کې باید دا شرایط موجود

وي چې وتړل شي، نه دا چې هر شي باندې ودرېږئ. له ښې مرغې نه په نړيوالې برخې کې يوه برخه د عمر مې تېره کړه. دې ټولو ممالکو کې زه له نژدې نه گرځېدلی يم، او دې کلونو کې چې بيا فرصت راته برابر شوی، د دوی په تاريخ باندې مې بيا غور کړی، او لکه هميشه غوندې زما فکر د افغانستان د ولس په خدمت کې دی چې څنگه دا تجربې زموږ شرايطو سره يو ځای کېدای شي.

جنبش: چون موضوع تجارت و صادرات و واردات است، بخاطر اینکه یک کشور صادراتی شود، مثلاً ما افغانستان را در نظر بگیریم که به یک درجه ای برسد که به عنوان یک کشور صادراتی از نظر اقلام صنعتی و غیر صنعتی و اینها مبدل شود، باید یک درجه مشخص رشد سالیانه را داشته باشد، کدام فورمولی برای این وجود دارد که رشد سالانه یک کشور چقدر باشد که صادراتی تلقی شود؟

دکتور غنی: حداقل ۹ ٪ در سال و باز تمرکز سر این باشد که رشد توسط کدام سکتورها می آید و نقطه دیگرش اینست که چقدر از کمک‌های بین‌المللی بی‌نیاز میشوید و ثروت داخلی را ایجاد میکنید و عوامل سرعت در چیست؟ و قسمت بعدی اش اینست که در یک مملکتی که اکثریت مردمش هنوز از زراعت نان می گیرد، سکتور زراعت را چطور صنعتی میسازید؟ مثلی که آقای زابلی به وضاحت این طرح را داشت و عملاً تطبیق کرده بود و در راه ایجاد وسیع ساختن این بود. و ابعاد دیگر این، تنها تولید داخلي نیست، ما از راه انتقالات یک ظرفیت بزرگ را ایجاد کرده میتوانیم. پروژه تاپی چه بود؟ پروژه کاسا چه بود؟ به حیث قلب آسیا از یک طرف بازار تولید کننده های بزرگ انرژی در کشورهای آسیای مرکزی وجود دارد، از طرف دیگر آسیای جنوبی سخت محتاج انرژی قابل اعتماد است. انتقال انرژی، مواصلات به عین ترتیب. یعنی تمرکز ما زیادتر سر زراعت و سر صنعت بود، اما انتقالات...، افغانستان یک مرکز بزرگ انتقالات شده میتواند و این نوع خاص سرمایه‌گذاری به کار دارد. و نقطه اولش اینست که سرکها که میلیاردها دالر سرش رفت از طرف چند شرکت ترانسپورتی از بین برده شد. سرکها ساخته شده بود برای ۸ تُن، اینها بین ۵۰ تُن تا ۱۰۰ تُن انتقالات ایجاد کردند. بدون شبکه سرتاسری خط آهن یک قسمت عمده انتقالات ما و بین منطقه صورت گرفته نمیتواند و از نگاه اعتبار [هم]. بنابرین اولویت بندی به کار است. سرک به ذات خود به تنهایی به یک کشور صادراتی شما را بدل کرده نمیتواند. اینکه مزرعه چطور با بازار جهانی ارتباط دارد، به مراتب مهمتر از اینست که چند سرک را قیر میسازید. یک طرح شده بود که سرک، سرک سرک! میلیاردها دالر سر سرک رفت، اما سر آب سرمایه گذاری صورت نگرفت. سر شهرهای ما، سر مسکن وغیره. باید به صورت اساسی سنجیده شود تا یک فورمولی که مثل سنگاپور واری، کار و مسکن و تعلیم را چطور ایجاد کرده میتوانید. یک افغان باید کار آبرومند داشته باشد، مسکن آبرومند داشته باشد، و ظرفیت مغزی آبرومند و مسلکی داشته باشد. اگر این سه چیز را می گیرید نتیجه این اعتماد سر آینده است. این ابعاد [باید] سنجیده شود. من تنها چند نقطه را گفتم. فورمول‌هایی که به صورت اساسی می آیند که تمام دارایی های ملی ما، سرمایه های ملی ما از خاطر ایجاد یک افغانستان مرفه، آباد و باثبات و مردم

سالار در خدمت مردم قرار می گیرد. فورمولش را باید خود ما پیدا کنیم که چه نوع ترکیب جوابگوی این نوع ضروریات است.

جنبش: ستاسې دغه وروستۍ جملې ته په کتو، یعنې دا هر څه دغه ټول اهداف چې موږ وڅېړل چې ضروري دي، ور رسېدل غواړي دا بیا هم په افغانستان کې د نظام له بنې او د افغانستان د دولت، د حکومت نړیوال اعتبار پورې به تړلي وي.

دکتور غنی: بالکل، ځکه بې له هغه نه دا رقم امکان نشته. که غواړو چې نړۍ نه ځان بېل وساتو، لکه چې مو پخوا وساته او بیا وایوو چې همدې باندې قانع یوو، نو هغه یوه لاره ده. اما که ژوند غواړو، د ژوند لارې باندې باید نتیجې ته ورسېږو. او که لاره مو ونیوله بیا نیمې لارې کې ستړیا د منلو وړ نه ده. موږ بار بار زموږ تاریخ کې یو اوچت غر مو مخکې و، لس فیصده چې مخکې لاړو، یو واري غاوره شوو، وایوو هواری ته رسېدلي یوو؛ نو بیا چې لوېدلي یوو، ډېر سخت لوېدلي یوو. اوس هندوکش غره نه تېرېږئ، دا کوتلونه اوچت دي او دا حوصله غواړي. پخوا مو دا رقم حوصله درلودله، غیر له هغه نه هندوکش به څنګه د وحدت غر باندې بدلېده له دې کوتلونو سره چې وو. نن ملا همدغې باندې تړل په کار دي. نن فزیکي غره باندې نه خېژئ، معنوي غرونو باندې خېژئ او حوصله باید ولرئ او دوام باید ولرئ. دا څو نسله غواړي او د نسلونو قرارداد په کار دی. او هغه بې له دې نه چې یو نظام وي چې باورمندي په کې وي، بیا نه شي کېدلای.

جنبش: د دې خپرونې پای ته رسېدلي یوو، زه غواړم دا پای بیا د افغانستان د یوې مهمې را روانې نېټې سره وتړم چې هغه د معاصر افغانستان د جوړېدو ۳۰۰مه کلیزه ده چې ۲۰۴۷ کې به نمانځل کېږي انشاءالله او موږ دې پودکاستو کې بیا بیا پرې غږېدلي یوو. فکر کوئ د ارزښت زنځیر د نوي بنې د را جوړولو له پیله تر هغو چې دغې نېټې ته رسېږو، باید کومه تنوع او رنګارنګي ولري چې زموږ دا څېره بیخي ورسره بدله شي؟

دکتور غني: اراده، طرحه، نیت، عمل! ابعاد یې معلوم دي. تګلارې باندې باید نتیجې ته ورسېږو. ملي اراده باید ولرو. لازمي اجماع ولرو. نیت مو باید د جوړولو وي. او حوصله او تمرکز د دې چې دې هدف ته ورسېږو او نه ستړي کېږو. بریالیتوب عجیب شی دی جنبش صیب. وختې چې بریالي اوسئ او لاره مو معلومه وي، ټولو کې همت راځي، ټولو کې حوصله راځي. وختې چې خلک وګوري، ولس وګوري، خویندې، ورونه، پېغلې، ماشومان، ځوانان چې ژوند په پرمختګ کې دی؛ ملا تړي، خپل عقل په کار اچوي. زمینه برابرېږي، شخصیتونه وده کوي. او د دې پر ځای چې یو بل سره په جګړې کې یئ چې نیمه ډوډۍ څنګه تقیسموئ، په دې باندې راځئ چې څنګه د ډوډۍ فابریکه جوړوئ چې نورو ته یې ورسوئ. دغه ذهنیت په کار دی. ذهنیت بدل کړئ، انشاءالله تعالی ۳۰۰مه کلیزه به ډېره خوندوره وي. بیا به هغه ورځ کې د احمد شاه بابا روح آرامه شي. دا به وایي چې زما بچو زما تګلاره ټینګه کړې او همت د دې لرې چې څه چې ما ګټلي دوی یې پالي.

جنبش: ډېره ډېره مننه استاده، فکر کوم چې سترې مې کړئ خو بحث په زړه پورې په دې و چې موږ باید په دې وپوهېږو چې زموږ سوداګري له څه نه جوړه ده؟ چا سره کېږي؟ کوم موډلونه تعقیبولی شوو؟ په دې باندې نورو پودکاستو کې نه وو غږېدلي، یک موضوع بسیار مهم بود. زنده باشید رئیس جمهور محمد اشرف غنی از حضور تان بسیار تشکر در این پودکاست نوبتی. شما و شنونده های عزیز را تا برنامه دیگر به خداوند می سپارم.

دکتور غنی: خداوند شما را داشته باشد، و احترامات من باز به تمام شنونده های ما.

زنده باد افغانستان، یشه سین افغانستان، تل دې وي افغانستان.